جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

# ملحد ته لنډ پیغام

رسالة موجزة إلى ملحد

بشتو

پښتو

په (بېلابېلو) ژبو د اسلامي محتوا د خدماتو د ټولنې علمي کمېټه

# رِسَالَةٌ مُوْجَزَةٌ إِلَى مُلْحِدٍ

## ملحد ته لنډ پيغام

اللَّجْنَةُ العِلْمِيَّةُ
بِجَمْعِيَّةِ خِدْمَةِ المُحْتَوَى الإِسْلَامِيِّ بِاللُّغَاتِ

**په (بېلابېلو) ژبو د اسلامي محتوا د خدماتو د ټولنې علمي کمېټه**

## ملحد ته لنډ پیغام

موږ په حیرانوونکو کایناتو کې ژوند کوو چې د دقیقو قوانینو لخوا اداره کیږي او یو حیرانونکی ثبات، دقت او نظم را په ګوته کوي.

هرڅومره چې یو څوک د کایناتو پر قوانینو د ژورې پوهې ترلاسه کول غواړي، نو هغه پوښتنه چې فزیک یې ځواب نه لري بار بار ور مخې ته کیږي چې: د دې قوانینو سرچینه څه ده؟ او اصلا د څه لپاره رامنځته شوې دي؟

زه د دې لپاره لیکل نه کوم چې چمتو ځواب وړاندې کړم، بلکې غواړم یوه منطقي پوښتنه در سره شریکه کړم چې د پوښتلو وړ ده، پرته له دې چې مذهبي یا فکري شالید په پام کې ونیسم.

ایا دا منطقي ده چې یو سیستم له نشت څخه پیدا شي؟ په غیر ارادي ډول رامینځته شي؟ له یوې بې عقله مادې څخه پوهه وزیږدیږي؟

راځئ چې له سره یې پیل کړو، له څرګندې او ژورې پوښتنې څخه:

آیا کیدای شي چې عدم یو شی پیدا کړي؟

آیا دا به منطقي وي چې ووایې: دا بې جوړې کائنات، له دې دقیق سیستم او د قوانینو ترمنځه یې د دې بشپړې همغږۍ سره، له عدم څخه او پرته له کوم لامل نه رامینځته شوي دي؟

سالم بشري عقل دا بالکل نه مني؛ ځکه موږ په خپل ژوند کې داسې څه نه وینو چې هغه دې له عدم څخه رامنځته شوي

وي.

راځه زما سره په خپل ځان کې فکر وکړه چې: ته چا له یوې سپکې نطفې څخه پیدا کړې او چا یو اورېدونکی او لیدونکی انسان جوړ کړې؟

ستا بدن چا په دومره کمال سره پیدا کړ او تاته یې د لیدلو لپاره سترګې، د اورېدو لپاره غوږونه، او د تحلیل او فکر کولو لپاره ذهن درکړ؟

ستا پالنه چا کوله کله چې ته د خپلې مور په رحم کې وې او هیڅ کومه چاره او ځواک دې نه درلود، ستا د مور له وینو څخه یې تغذیه کولې او هر هغه څه یې درته چمتو کول چې تا ورته د ودې او د نیا ته د ژوندي راتللو لپاره اړتیا درلوده.

نو آیا دا هر څه تا په خپله د ځان لپاره کړي او که دې کائنه طبیعت دا کار کړی دی؟

طبیعت عقل، اراده او خوښه نه لري. نو څنګه به داسې نظام رامنځته کړی شي چې له تر ټولو لوی کمپیوټر څخه هم ډیر پیچلی دی؟ څنګه کولی شي پوهاوی او د مشاعرو حس کول رامنځته کړي؟

طبیعت څنګه کولی شي د مور په زړه کې د هغې د ماشوم لپاره غریزوي مینه پیدا کړي؟ یا دا چې د بې عدالتۍ په لیدلو سره ستا زړه موټی او خفه کړي او د عدالت لیدلو لپاره دې سینه پراخه کړي؟

دا عالي معناوې چا په موږ کې را ژوندۍ کړې؟ ارزښتونه له کومه راغلل؟ وجدان له کومه راغی؟

يقينا چې خواوشا ته دې هر څه د خالق د شتون نعرې وهي.

اسمان ته وګوره: چا له ستنو پرته پورته کړی؟

لمر ته وګوره: چا يې تګ لوری په دقيقه توګه اندازه کړی چې هيڅ بدلون نه مومي؟

زړه ته دې وګوره: چا داسې کړی چې ستا له اجازې پرته ټول عمر نبض وهي.

ايا دا ټول يو تصادف دی؟ آيا په دې سيستم کې تصادف په ملياردونو ځلې تکراريږي؟

آيا باور کولی شئ چې يو قاموس يا د علمي موسوعې په څير دقيق کتاب د چاپګر له چاودنې سره په ناڅاپي توګه په خپله راڅرګند شوی دی؟

نو څنګه باور کولی شې دا کائنات چې له ټولو کتابونو څخه لوی دي د يوې ړندې چاودنې په پايله کې رامنځته شوي دي.

اسلام تاته د خپل عقل د شنډولو بلنه نه درکوي، بلکې بلنه درکوي چې ويې کاروې، الله تعالى په قران کې فرمايلي دي:

﴿...أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ...﴾

(... ايا د الله په باره کې شک دی، چې د اسمانونو او ځمکې پيداکوونکی دی...) [إبراهيم: ١٠].

ايا دا معقوله ده چې د هغه چا په شتون شک وشي چې هرڅه يې پيدا کړي دي؟

او وايي:

﴿وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٢١﴾

(او ستاسو په ځانونو کې هم، ایا نو تاسو نه وینئ ۲۱)

[الذاریات: ۲۱]

تاته بلنه ده چې په خپل بدن او روح کې فکر وکړه ترڅو دې پر وړاندې دلایل ومومې.

بیا په قرآن کریم کې فکر وکړه؛ چې تر ټولو وروستی نازل شوی الهي کتاب دی.

هغه کتاب چې ۱۴۰۰ کاله پخوا نازل شوی، او بشریت ننګول شوی چې په څېر یې بل کتاب راوړي، خو ندي توانېدلي.

هغه کتاب چې عقیده، شریعت (قوانین) کیسې، علم او ژبه یې په داسې اسلوبو سره راغونډ کړي چې ساری نه لري.

د هغو ملتونو په اړه یې خبر ورکړې چې له منځه تللي او هغه پېښې چې اوس ورکې دي، هغه کشفونې چې پېړۍ وروسته پیژندل شوي دي، لکه: د جنین وده، د وریځو جوړښت، د ځمکې طبقې، او د سیارو دقیق څرخېدل.

بیا د محمد صلی الله علیه وسلم په ژوندلیک کې فکر وکړه چې هغه یو سړی و چې د تمدن له مرکزونو څخه لرې په یوه دښته کې لوی شوی و، د لوستلو او لیکلو توان یې نه درلود، او له هیڅ بشر څخه یې هیڅ زده کړه نه وه ترلاسه کړې، خو انسانیت ته یې یو تلپاتې پیغام وړاندې کړ چې ذهنونه یې روښانه کړل، روحونه یې پاک کړل، او د تاریخ په اوږدو کې یې یو لوی بدلون راوست.

په هغو کلمو سره چې په غار کې پرې نازل شوې؛ بشریت یې د انسانانو او ډبرو له عبادت څخه د کایناتو د خالق یووالي منلو ته نقل کړ او د عدالت، رحمت او وقار ارزښتونه یې پکې وزیږول.

نو دا کوم ځواک دی چې نړۍ ته یې بدلون ورکړ، زړونه یې خپل کړل او د پیړیو په تېریدو سره یې لا غځږ دوام لري او پورته کیږي؟

اې هغو کسانو چې دا ټکي لولئ: ستاسو رب ستاسو څخه هیڅ شي ته اړتیا نلري، مګر تاسو هغه څوک یاست چې هغه ته اړتیا لرئ.

هغه پیدا کړې او روزي درکوي، ساتنه دې کوي او مهلت درکوي، تر څو فکر وکړې او بېرته راوګرځې.

هغه له هیچا سره ظلم نه کوي، او چا چې ورته په ریښتیني توګه رجوع وکړله، عذر یې مني، ښښنه ورته کوي او ګناهونه یې ورته په نیکیو بدلوي.

زه پر تا هیڅ شی نه تحمیلوم، خو له تا څخه هیله لرم چې زړه ته دې د ریښتیا منلو فرصت ورکړه.

له غوسې او داخلي سوچونو څخه ځان خلاص کړه او د یوې شیبې لپاره فکر وکړه:

که زه په غلطه وم، نو څنګه به شي؟

که چیرې الله، له مرګ نه وروسته ژوند، جنت او دوزخ شتون ولري نو بیا به څه وي؟

ایا هغه مهال به پښیمانه شې، کله چې پښیماني هیڅ ګټه

نلري؟

نو د حق په لور یو صادقانه ګام پورته کړه او خپل سفر د قرآن سره پیل کړه ... تاسو ممکن پکې هغه ځوابونه ومومئ چې در څخه ورک وو، او یوه رڼا ومومئ چې تاسو پسې پلټنه کوله.

د قرآن کریم د معناګانو ژباړه

❊❊❊

جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

ملحد ته لنډ پیغام، عقل ته مخاطب دی وايي چې د کايناتو دقت او نظم تصادف نه مني او د يو حکيم پيدا کوونکي ذات پر شتون دلالت کوي، نو آيا عقل مني چې دا هر څه دې له عدم څخه منځته راغلي وي (هيڅ پېدا کوونکی ونه لري)؟ خپل زړه دې لږ فکر او غور کولو ته پرانيزه او د حقيقت په لټه کې شه، کېدی شي هغه رڼا ومومې چې لاربښوونه درته وکړي